# د حزب التحریر د امیر، جلیل القدر عالم عطا بن خلیل ابو الرشته لخوا د ۱۴۴۰ هـ.ق کال ( چې له ۲۰۱۹م سره سمون خوري) د لوی اختر د مبارکۍ پیغام

**(ژباړه)**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد...

کریم اسلامي امته، په بیت الحرام کې حاجیانو، د دعوت حمل کوونکو او د فېسبوک پاڼې تعقیب کوونکو!

السلام علیکم و رحمه الله و برکاته... طاعات او عبادات مو قبول شه، الله دې دا اختر د خیر او برکت اختر وګرځوي. الله سبحانه و تعالی دې د حاجیانو حج قبول او مقبول وګرځوي او د ګناهانو د مغفرت سبب دې یې شي... الله سبحانه و تعالی دې هغو کسانو ته چې سږ کال یې ونه شوای کړی هم د حج د ادا کولو توفیق ورکړي.

ګرانو خویندو او ورونړو!

موږ د تکبیر په ویلو سره او د اسلام د خیر او برکت لپاره د الله سبحانه و تعالی حمد وایو، او د خلافت د اقامې په موخه د حزب التحریر په صفونو کې د دعوت د لېږد لپاره د الله سبحانه و تعالی حمد وایو، د هغه سبحانه و تعالی حمد وایو چې د کفارو، مستعمرینو، د هغوی د جاسوسانو او خاینو حکامو له مکرونو او د منافقینو ، چې زړونه یې مریض دي، له توطیوسره سره یې بیا هم دا حزب لا تر اوسه قایم ساتلی. هو د الله تکبیر وایو: الله اکبر الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله الله اکبر الله اکبر و لله الحمد...

خلافت چې حزب التحریر یې د تاسیس لپاره کار کوي؛ د کفارو له سترګو یې خوب غلا کړی او د مسلمانانو جاسوسو حاکمانو په زړونو کې یې وېره اچولې؛ منافقین او هغوی چې له کفارو مرسته غواړي، له هغه څه چې پرې راتلونکي دي، ځوربږي.

**[فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَنْ تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِنْ عِنْدِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَى مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ]**

**ژباړه:**« نو ته به هغه کسان وینې چې د هغوی په زړونو کې بېماري ده چې په (مینه د) دوی کې منډې وهي او دوی وایي: مونږ وېرېږو (له دې نه) چې مونږ ته څه مصیبت راورسي، نو نیږدې ده چې الله فتح راولي، یا له خپلې

خوا نه کوم بل حکم (راولي) نو دوی به پښېمانه شي په هغو خبرو چې دوی په خپلو نفسونو کې پټې ساتلې وې»[المائده:۵۲ ایه]

خویندو او ورونو، له کله نه چې حزب التحریر تاسیس شوی، فشارونه ورباندې دي. د هغو کسانو د کړنو له امله چې الله هغوی ړانده کړي، د هغوی د بې ایمانۍ له امله او د هغوی د منافقت له امله د هغوی له زړونو یې احساس اخیستی، او په گناه کې روان دي او له دې خیال سره ژوند کوي چې د خلافت د قایمېدو مخه به ونیسي. هغوی به د حق په راتلو سره په تعجب کې شي او هغوی له حق څخه وېرېږي او له هغو ډلو څخه دي چې په خپل مکر کې به راگیر شي څرنگه چې الله سبحانه و تعالی فرمایلي:

**«وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ»**

**ژباړه:** «او ډېر بد مکر یواځې په خپل اهل (مکر کوونکي) چاپېره کېږي»[فاطر:۴۳]

کافر استعمارگر هېوادونه چې د اسلام او د خلافت دولت بد غواړي او د خلافت کرکه کوونکي لکه صلیبیان، دا هېوادونه او د هغوی جاسوسان خپلې ټولې هڅې کوي او هر ډول مکر څخه کار اخلي چې د اسلام دعوتگران وځوروي هغوی بند ته واچوي او په زندانونو کې یې په شهادت ورسوي او خپل دا جنایت د ترهگرۍ سره د مبارزې تر نامه لاندې پټوي او ادعا کوي چې د ترهگرۍ په وړاندې یو کمربند دی. او اوس د انلاین ترهگرۍ بهانه یې وړاندې کړې! او وایي چې حزب د خپلو کسانو پاڼې د بنسټ پالنې او ترهگرۍ له نظریو او مفکورو څخه ډکوي؛ دوی دا کسان په دې بهانه چې انلاین ترهگري کوي په پاڼو کې ځوروي، څاري یې او بندي کوي یې. ټول د دې شاهد دي چې د دعوتگرانو پاڼې له حق څخه ډکې دي په داسې حال کې چې د دوی پاڼې له دروغو، چل او مکر څخه ډکې دي! الله دې دوی تباه کړي او دوی باطل دي...

او هغه کسان چې زړونه یې مریض دي او منافقین او هغه کسان چې افترا کوي: د دوی مخالفت او افترا له پخوا څخه وو که څه هم د دوی دروغ او انتقاد په لومړیو کې د حزب په مشرتابه او چارواکو وو په داسې حال کې چې د حزب په مفکورو او طریقه یې باور درلود... دوی افشا شول او ربښتنې موخه یې څرگنده شوه چې نه یوازې مشرتابه ته، بلکې حزب ته زیان رسوي. خو په وروستیو کلونو کې هغوی په خپله حزب، مفکوره او طریقه باندې یې برید کوي. هغوی په حزب، طریقه او فکره یې، د حزب په مشرتابه، ناستو او دې ته ورته نورو کړنو باندې انتقاد کوي. او د دوی اصلي موخه، چې غواړي حزب ته زیان ورسوي، د هر هغه چا لپاره چې بصیرت لري ښکاره او په ډاگه ده... خو حزب لا تر اوسه قایم، سلامت او خالص پاته دی.

**[كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا]**

**ژباړه**: «د هغې پاکیزه ونې په شان ده چې د هغې بېخ کلك وي (په ځمکه کې) او د هغې څانگې په اسمان کې وي خپله مېوه د خپل رب په حکم سره هر وخت ورکوي»[ابراهیم: ۲۴-۲۵]

الحمد لله رب العالمین

گرانو ورونو او خویندو، استعمارگر کافر هېوادونه او د هغوی جاسوسان به ارام نشي هغوی به خپل مکرونه یو په بل پسې وکاروي ځکه چې د خلافت په تاسیس کې د حزب مخنیوی د هغوی لپاره داسې اړین دی لکه څرنگه چې د خلافت قایمېدل د حزب او ټولو مومنانو لپاره بنسټیزه موخه ده. د اسلام دښمنان به د حزب او خلافت پر وړاندې له خپلو مکرونو لاس وانخلي او دې ته به دوام ورکړي. که څه هم هغوی تر موږ زیات امکانات لري خو اوس هم څلور حقیقتونه دي چې موږ ته پیاوړتیا او ایمان رابښي او د فشارونو له امله او د الله سبحانه و تعالی په توفیق سره به کمزوري نشي او زموږ پیاوړتیا به لا زیاتوي او د کفارو مکرونه به د هغوی پر وړاندې ودرېږي او هغوی به د تباهۍ په لور روان کړي.

«**وَقَدْ مَكَرُوا مَكْرَهُمْ وَعِنْدَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِنْ كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ**» [ابراهیم: ٤٦]

**ژباړه:** او یقینًا هغوی خپل مکر (او فریب) ښه په کوشش سره وکړ، حال دا چې د دوی مکر الله سره دی، او د دوی مکر داسې نه و چې د هغه په وجه به غرونه زایل شي

حزب خپلې د حق مبارزې ته دوام ورکوي څو چې د الله سبحانه و تعالی په اذن سره خلافت تاسیس کړي.

**دا څلور واقعیته شته:**

**لومړی:** په سختۍ پسې اسانی وي؛ دا خبره د الله سبحانه و تعالی په کتاب کې له یوه نه په ډېرو ایتونو کې راغلې:

**[حَتَّى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوا جَاءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ مَنْ نَشَاءُ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ]**

**ژباړه:** «تر هغه پورې چې رسولان به نا امېده شول او هغو (خلقو) به دا یقین وکړ چې بېشکه دوی (رسولان) چې دي، یقینًا دوی ته دروغ ویل شوي دي (، نو) دوی (رسولانو) ته به زمونږ مدد راغی، بیا به هغه چا ته نجات ورکړی شو چې مونږ به غوښتل او زمونږ عذاب له مجرمو (کافرو) خلقو نه نشي دفع کېدلی» [سورة یوسف: ۱۱۰]

دا خبره د پیغمبر صلي الله علیه وسلم له سیرت نه معلومېږي چې بریا ته د نیږدې کېدو پر وخت به سختي ډېره شوه...د ابن هشام په سیرت کې راځي:

«ابن اسحق ویلي: خدیجه بنت خوویلید او ابو طالب په یوه کال کې مړه شول، دا پیغمبر صلي الله علیه وسلم ته پرله‌پسې سختۍ او مصیبتونه وو... دا پېښه له هجرت نه درې کاله مخکې وشوه... ابن اسحق وایي: الله عزوجل غوښتل خپل دین حاکم، خپل پیغمبر (صلي الله علیه وسلم) پیاوړی او خپلې ژمنې پوره کړي... پیغمبر صلي الله علیه وسلم د خزرجو له یوې ډلې سره ولیدل... پیغمبر صلي الله علیه وسلم دوی د الله عزوجل لوري ته را وبلل... دوی ومنله...»

راتلونکی کال یې د عقبې لومړی تړون وشو، بیا یې دوهم، بیا هجرت او ورپسې د دولت تاسیس... په دې توګه هڅه کوونکي او کار کوونکي مومنان چې له سختۍ سره مخ شي، د القوي، العزیز، الحکیم خدای په خوښه په دغه سختۍ پسې اساني او بریا وي.

**دوهم:** الله د « دولت او قدرت » د ځایناستي کېدو او توالي ژمنه کړې،

**[وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ]**

**ژباړه:** «الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی، چې تاسو یئ او نېك عملونه یې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو»[ سورة النور: ۵۵]

پیغمبر صلي الله علیه وسلم له دغه ظالم حکومت وروسته چې موږ یې تر حاکمیت لاندې ژوند کوو، د خلافت د راتګ زېری راکړی: احمد او ابو داوود له ابو حذیفه نه روایت کوي چې پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ جَبْرِيَّةً، فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ، ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا، ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»، ثُمَّ سَكَتَ**

***ژباړه:*** *«... بیا به تر هغه چې د الله خوښه وي جبريه حکومتونه وي، بيا يې چې کله خوښه شي دا به له منځ ه يوسی، بيا به د نبوت پر منهج خلافت تاسيس شي.» بيا دی صلي الله عليه وسلم چوپ شو.*

**درېيم:** د ځايناستي کېدو لپاره د الله سبحانه و تعالی ژمنه او د خلافت د بيا راتګ په اړه د پيغمبر صلي الله عليه وسلم زېری د الله په قدر، د دده سبحانه و تعالی په علم په لوح محفوظ کې ليکلي. ټاکلی وخت يې العزيز، الحکيم خدای ليکلی او په دې کې ځنډ نه راځي. هره ورځ چې تېرېږي ورنيږدې کېږو، ترې لرې کېږو نه؛ نو موږ د دې لپاره هڅه او هيله کوو.

**څلورم:** الله سبحانه و تعلی ملايکې نه رالېږي چې موږ ته خلافت تاسيس کړي، خو خدای هغو خلکو ته په دې سره عزت ورکوي چې په خپلو لاسو د خلافت د تاسيس وړتيا لري، سخت او جدي کار ورته کوي، جهد کوي او دې کار ته ژمن پاتې کېږي. حزب التحرير چې د خلافت لپاره کار کوي، که خدای کول د دې کار وړتيا او شايستګي لري. موږ له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې موږ ته په بريا او فتحې سره عزت راکړي، چې موږ د خلافت سرتېري شو او شاهدان يې و اوسو او زموږ د اختر تکبير د فتحې له تکبير سره يو ځای شي.

**[وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ]**

**ژباړه:** «او په دغې ورځ به مومنان خوشاله شي د الله سبحانه و تعالی په مرستې سره»[سورة الروم: ۴-۵]

***الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله، الله اکبر، و لله الحمد***

وسلام عليکم و رحمته الله و برکاته

**ستاسو ورور**

**عطا بن خليل ابو الرشته**

**د حزب التحرير امير**

۱۴۴۰ هـ ق کال د ذولحجې د لسمې ماښام چې د ۲۰۱۹م کال د اګېسټ له ۱۱مې سره سمون خوري